# ابادي اوونیزه

هفته نامه آبادی



ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصادي او ټولنيزو مسايلو په برخه کې

د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

ګڼه: ۳۶ | مسلسل نمبر: ۷۸

شنبه، د جمادی الآخرة ۱۹ مه، ۱۴۴۶ هـ.ق کال


## سرلیکنه



له کله نه چې پر افغانستان د نیواکګرو له لوري برید شوی او دلته جګړې رامنځته شوې دي، د افغانستان صنعت او د تولید برخه چې څه نا څه په پښو درېدلې وه، په ټپه ودرېده. ټول صنعتي بنسټونه او کارخونې له فعالیت څخه پاتې شوې. له هغه وروسته د افغانستان تقریبا ټوله اتکا پر وارداتو شوه. دا خو ټولو ته جوته او معلومه ده چې وارداتي هېوادونه تل د نورو له لوري له اقتصادي او سیاسي فشارونو سره مخ وي.

د دې له پاره چې هېواد له وارداتي حالته وباسو او پر یوه صادراتي هېواد یې بدل او له یادو فشارونو ځان وژغورو، نو په کار داده چې خپلو کورنیو تولیداتو ته پوره پاملرنه وکړو. اوسمهال د افغانستان په تولیداتو کې زیاته برخه کرنیز او د مالدارۍ محصولات دي. افغانستان یو کرنیز هېواد دی او کرنه په دې هېواد کې په عنعنوي توګه د اقتصادي پراختیا له پاره یو بالقوه شاخص ګڼل کېږي. د افغانستان د کلیوالي سیمو خلک له پېړیو راهیسې تر ډېره په کرنه او مالدارۍ بوخت دي او تر پنځوس سلنه زیاتې کورنۍ د خپل ژوند لومړنۍ اړتیاوې د کرنې له سکتور څخه پوره کوي. مالداري د افغانستان د کلیوالو سیمو د خلکو لپاره د ژوند یوه حیاتي برخه ده او په دې صنعت کې د هېواد د شیدو، غوښې، وړیو او نورو حیواني محصولاتو لویه برخه تولیدېږي. په افغانستان کې د مالدارۍ صنعت نه یوازې د کلیوالو کورنیو د اقتصادي ودې لپاره مهم دی، بلکې د افغانستان د ټول اقتصاد په پراختیا کې هم مهم رول لوبولی شي. خو دا محصولات او تولیدات هغه مهال معیاري او په کچه کې یې زیاتوالی راتلی شي، چې په کور د ننه مصرف او هېوادوال یې وکاروي.

اسلامي امارت د کورنیو تولیداتو او بیا یې پر اقتصادي وده د هغو اغیزې ته په پاملرنې سره په دې برخه کې اغیزناک ګامونه پورته کړي دي. د اقتصادي کمېسیون په نوبتي غونډه کې چې د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ جوړه شوې وه، د کورنیو کرنیزو او مالدارۍ محصولاتو څخه د ګټې اخیستنې د کړنلارې مسوده تایید او د نهایي تصمیم نیونې په موخه د ریاست الوزراء عالي مقام ته واستول شوه. دغه کړنلاره د بزګرانو او مالدارانو د اقتصادي ودې د پیاوړتیا او په ورته وخت کې کورنیو کرنیزو او مالدارۍ محصولاتو ته د بازارموندنې په موخه جوړه شوې، چې له مخې به یې په لومړي سر کې د ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونه، د استخباراتو لوی ریاست او ورپسې ټولې اماراتي اداري او هېوادوال د خپلو اړتیاوو د پوره کولو پر مهال یادو محصولاتو ته لومړیتوب ورکوي.

په دې سره به په هېواد کې له کورنیو تولیداتو څخه د ګټې اخیستنې کلتور پلی او پر مټ به یې د اقتصادي ودې ترڅنګ اقتصادي او سیاسي خپلواکي رامنځته، خلکو ته به د کار زمینه برابره، د تولیدونکو له لوري به نوښتونه زیات او ملي شتمني به زیاته شي.

### د عالیقدر امیرالمؤمنین شیخ القرآن و الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله تعالی په مشرۍ د اقتصادي کمېسیون ځانګړې غونډه ترسره شوه



۲ صفحه

### د اقتصادي کمېسیون په نوبتي غونډه کې پر یوشمېر موضوعاتو بحث وشو



۳ مه صفحه

### له روسي پلاوي سره د شریکو شوو اقتصادي موضوعاتو د تعقیب په موخه له سکتوري وزارتونو سره ځانګړې غونډه ترسره شوه



۴ مه صفحه

## د عاليقدر اميرالمؤمنين
## شيخ القرآن و الحديث مولوي هبة الله اخندزاده حفظه الله تعالى
### په مشرۍ د اقتصادي کميسيون ځانګړې غونډه ترسره او لاندې پرېکړې په‌کې وشوې



**پرېکړه:**

د چارو اداري لوی رياست د سرپرست شيخ نورالحق انور په مشرۍ، د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او شکاياتونو اورېدلو، ارشاد، حج او اوقافو، د اطلاعاتو او فرهنګ، لوړو زده کړو او پوهنې وزارتونو، د ستري محکمې او مرکزي دارالافتاء عمومي رياستونو، د علماوو شورى او فقهي مجالسو په غړيتوب هيئت ته دنده سپارل کېږي چې په ټول افغانستان کې هغه بد رواجونه تثبيت کړي چې د شريعت له مخې هم روا نه وي او خلک يې هم زياتو مصارفو او اسرافونو ته اړ کړي وي، د دې د مخنيوي لپاره دې يوه طريقه جوړه کړي او د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه‌الله تعالى محترم مقام ته دې وړاندې کړي.

**پرېکړه:**

د چارو اداري لوی رياست د سرپرست شيخ نورالحق انور په مشرۍ، د کور او ښار جوړولو، عدليې، کرنې اوبولګولو او مالدارۍ (اراضي) او د صنعت او سوداګرۍ وزارتونو او کابل ښاروالۍ په ګډون هيئت ته دنده سپارل کېږي چې لاندې کارونه ترسره کړي:

۱- هغه ځمکې چې خالص امارتي ملکيت او د هستوګنې او سوداګرۍ لپاره دي، تر ښاري پلان لاندې او زيربنايي (بنسټيزې) چارې يې يوه اندازه ترسره شوې دي، هراړخيزه کړنلاره دې ورته جوړه کړي چې له مخې يې خلکو ته ځمکې تمليکاً په اصولي توګه وويشل شي.

۲- هغه هستوګنيز ښارګوټي چې د غصب د مخنيوي او غصب شويو ځمکو د استرداد کميسيون له لوري امارتي ثابت شوي او تصفيه شوي دي، هراړخيزه کړنلاره ورته جوړه کړي چې له مخې يې د ښاري پلان مطابق خلکو ته د ابادۍ او ودانولو په موخه تمليکاً ورکړل شي.

۳- د ښاري پلان له مخې دې، د خلکو په شخصي ځمکو کې د ابادۍ او ودانيزو چارو ترسره کولو بهير اسانه او سهولتونه ورته رامنځته کړي.

**پرېکړه:**

د کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ، صنعت او سوداګرۍ وزارتونو او اراضي رياست په ګډون پلاوي ته دنده سپارل کېږي:

۱- د کابل په څلورو خواوو کې د صنعت اوليه او خفيفه لپاره دوه دوه زره جريبه ځمکه د صنعتي سيمو د جوړولو په موخه د افغانستان اسلامي امارت له لوري د نوي منظور شوي قانون، چاپېريال ساتنې او ښاري ماستر پلان مطابق د يوې کړنلارې له مخې يادې ځمکې ځانګړې او وسپاري.

۲- په ننګرهار، کندهار او بلخ ولايتونو کې د صنعتي ساحو لپاره شل شل زره جريبه ځمکه د صنعتي ساحو لپاره د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه‌الله تعالى له لوري د نوي منظور شوي قانون، چاپېريال ساتنې او ماستر پلان له مخې ځانګړې او وسپاري. همدارنګه دې د يادې ځمکې له يوې برخې څخه د کانونو د پروسس کولو لپاره هم ګټه واخيستل شي.

۳- په کندوز ولايت کې دې (۱۰۰۰۰) لس زره جريبه ځمکه د صنعتي سيمو لپاره د امارت له لوري د نوي منظور شوي قانون، چاپېريال ساتنې او ماستر پلان مطابق ځانګړې او وسپاري.

۴- د کابل، ننګرهار، کندهار، بلخ او کندوز ولايتونو پرته په نورو ولايتونو کې د امکان په صورت کې د صنعتي پارک لپاره په هر ولايت کې (۱۰۰۰) زر جريبه ځمکه د صنعتي ساحو لپاره د اسلامي امارت له لوري د نوي منظور شوي قانون، چاپېريال ساتنې او ماستر پلان مطابق ځانګړې او وسپاري.

۵- د کوچنې صنعت يا تشبثاتو لپاره دې په هر ولايت کې له لس څخه تر پنځوس جريبه ځمکه د صنعتي ساحو لپاره د اسلامي امارت له لوري د نوي منظور شوي قانون، چاپېريال ساتنې او ماستر پلان مطابق ځانګړې او وسپاري.

۶- د فارمي مالدارۍ، کرنې او د چرګانو پالنې لپاره دې خلکو ته ملکيتاً يا په اوږدمهاله د تمديد وړ اجاره ورکولو په موخه هراړخيزه کړنلاره چمتو کړي.

**پرېکړه:**

اقتصادي کميسيون ته دنده سپارل کېږي، د لويو لارو په اوږدو کې هغه ځمکې چې هلته د مسجد او لوازماتو د ودانولو په موخه تولګټو وزارت ته تثبيت شوې او د ياد وزارت له لوري تراوسه نه دي ابادې شوې، خصوصي سکټور ته ورکړي، چې نارينه او ښځينه مسجدونه، د اودسو ځايونه، تر څنګ يې تېل پمپونه، هوټل او د مسافرو د اړتياوو مطابق ودان کړي چې د مسافرو لپاره د اسانتياوو رامنځته کولو سربېره خلکو ته د کار زمينه هم برابره شي.

ABAADI ONLINE WEEKLY

د اقتصـادي او ټــولنيزو مسايلــو په برخـه کــې
د رياســت الوزراء اقتصادي معاونيت خبري اوونيزه

اوونيزه
ابادي
هفته‌نامه آبـادی

### پرېکړه:

د کرنې، اوبولګولو او مالـداری او اوبو او انرژۍ وزارتونو او اراضي رياست ته دنده سپارل کېږي، په هغو سيمو کې چې امارتي ځمکې او ترڅنګ يې اوبه شــتون لري، د اغېزمنې ګټې اخيستنې او خلکو ته د اجاره ورکولو په موخه هراړخيزه طرحه چمتو کړي.

### پرېکړه:

د امارتي شرکتونو لوی رياست دې د سپين زر امارتي شرکت اړوند له کوکچې تر آبدان دښــتې د کانال طرحه اقتصادي کمېسيون ته واستوي او د منظورۍ په موخه دې د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه‌الله تعالی محترم مقام ته وړاندې کړي، اقتصادي کمېسيون دې د بحث پر مهال په همدې سيمه کې منظور شوی بند هم په نظر کې ونيسي.

### پرېکړه:

د کانونو او پټروليم وزارت او انکشاف ملي شرکت دې له بل خصوصي سکټور سره په ګډه د حاجي ګک سيمې د اوسپنې کان اړونــد طرحه چمتو او د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه‌الله تعالی محترم مقام ته دې د منظورۍ په موخه وړاندې کړي.

### پرېکړه:

د امارتي شرکتونو عمومي رياســت ته دنده سپارل کېږي چې هلمند ولايت کجکي بريښنا د قوي کولو او د توزيع لپاره د بريښنا شرکت جوړ شــوی پلان تطبيق کــړي او راپور يې د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه‌الله تعالی محترم مقام ته وړاندې کړي.

### پرېکړه:

په کومو ولايتونو کې چې د امنيتي مسؤلينو له لوري انساني ويښتان نيول شوي دي، د سوځولو په اړه دې د کورنيو چارو وزارت له لوري د امارت محترم مقام ته پيشــنهاد وشي او د حکم ترلاسه کولو وروسته دې ټولو ولايتونو ته ياد حکم ابلاغ کړي او له هغه سره سم دې اجراآت ترسره کېږي.

### پرېکړه:

د کومو شــيانو صادرول يا واردول چې د ماليې وزارت يا له وزارتونــو څخه د جوړې شــوې تعرفــې د کمېټې له لوري بنديږي، د هغه په اړه لاندې اجراآت ترسره کېږي:

۱ـ کوم شــيان چې ماليه وزارت يا د تعرفې کمېټې له لوري بنديږي يا اجازه ورکول کېږي، د هغه ټولو شيانو لېستونه دې تهيــه کېږي او د عاليقدر اميرالمؤمنيــن حفظه‌الله تعالی له محترم مقام څخه دې منظوري اخيستل کېږي، ياده کمېټه مکلفه ده چې د خپل کار لپاره طرزالعمل جوړ کړي.

۲ـ هغه اوسپنې چې د کابينې د فيصلې پر اساس يې قاچاق بنـد وي، د قاچاق کولو په صورت کــې دې مالک بايد (د اوسپنې نوعيت او د عمل تکرار ته په کتو) له شپږو مياشتو څخه تر دوو کلونو پورې بندي شي او هغه کس چې انتقالوي يې، د هغه موټر دې تر دوو مياشتو پورې ودرول شي.

۳ـ نيول شــوې اوســپنه دې د سرحدي مجاهدينو له لوري مناســب محفوظ ځای ته انتقال شي، هلته دې په محفوظ ډول ذخيره شي او ټول مشخصات دې يې وليکل شي.

۴ـ کومه قاچاقي اوسپنه چې نيول کېږي، هغه دې د بېرته ورکولو په صورت کې د والي، د مربوطه ولايت د قول اردو د قومندان او د استخباراتو د رئيس په ګډه موافقه ورکول کېږي.

۵ـ د دې لپاره چې په غير رسمي لارو باندې د ممنوعه توکو د قاچاق او د ممنوعه توکو د ورود مخه ونيول شي، نو د هر ولايت د امنيه قومندانۍ له لوري دې يوه اندازه تشکيل دې ساحو ته ورکړل شي، ترڅو د باربدونکو اموالو او اجناسو او د را واردېدونکو اموالو تلاشي وکړي، يادو مجاهدينو ته دې يوه اندازه امتيازات ورکول شي.

### پرېکړه:

د عامــې روغتيا وزارت، ماليــې وزارت، د صنعت او تجارت وزارت او د ښــاروالیو عمومي رياست دې د قاچاقي دواوو او خوړو شــيانو د مخنيــوې لپاره يوه طريقه جــوړه کړي او د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه‌الله تعالی حضور ته دې وړاندې کړي. همدارنګه ټول هغه شيان دې هم مشخص شي چې د افغانســتان له لوري يې صادرات کېږي او طرزالعمل دې ورته جوړ شي.

## د اقتصادي کمېسيون په نوبتي غونـــډه کې پر يوشـــمېر موضوعاتو بحث وشو



د اقتصادي کمېسيون په نوبتي غونډه کې چې د رياست الوزراء اقتصادي مرســتيال محترم مــلا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ په مرمرينه ماڼۍ کې جوړه شوې وه، له اجنډا سره سم پر ټاکل شــوو موضوعاتو بحث وشو. په دغه ناسـته کې د کورنيو کرنيزو او مالدارۍ محصولاتو څخـه د ګټې اخيســتنې د کرنــلارې پر مســوده، په ســاختماني پروژو کې د غوري ســيمنتو پــر کارولو، د خوســت ولايت غلام خان او د کندهار ولايت د ســپين بولــدک ګمرکونو تــه د ځمکې د لېږد او يوشــمېر نورو موضوعاتو په اړه بحث وشو.
له هراړخيز بحث وروســته د کورنيــو کرنيزو او مالدارۍ محصولاتو څخه د ګټې اخيســتنې د کرنلارې مســوده تاييد او د نهايي تصميم نيونې په موخه د رياســت‌الوزراء عالي مقام ته واســتول شــوه. دغه کرنلاره د بزګرانو او مالدارانو د اقتصادي ودې د پياوړتيا او په ورته وخت کې کورنيو کرنيزو او مالدارۍ محصولاتو ته د بازارموندنې په موخه جوړه شوې، چې له مخې به يې په لومړي سر کې د ملي دفاع او کورنيو چارو وزارتونه، د استخباراتو لوی

ریاســـت او وریســـي تولي امارتي اداري او هېوادوال د خپلو اړتیـــاوو د پوره کولو پر مهال یـــادو محصولاتو ته لومړیتوب ورکوي.

د اقتصادي کمېسیون یادې غونډې ته په ساختماني پروژو کې د غوري ســـیمنټو د کارولو په اړه د ټاکل شوي پلاوي راپور هم وړاندې او تایید شـــو. د وړاندې شـــوي راپور پر اساس اړوندو سکتوري وزارتونو، ادارو او هېوادوالو ته سپارښتنه وشوه څو د خپلو پروژو او ساختماني چارو په هغو برخو کې د غوري سیمنټو استفادې ته لومړیتوب ورکړي، چې په یادو برخو کې د دغه فابریکې تولید شـــوو سیمنټو معیار پوره کړی دی. همدا راز د غوري ســـیمنټو فابریکې مســـوولینو ته سپارښتنه وشوه چې د خپل ظرفیت لوړولو او همـــدا راز په ټولو برخو کې د معیاري تولید په موخه هڅې ګړندۍ کړي څو هېواد د سیمنټو په برخه کې خودکفایی ته ورســـېږي. د غوري ســـیمنټو فابریکه اوسمهال په ۲۴ ساعتونو کې ۷۰۰ ټنه تولید لري چې کیفیت ته یې ځانګړې پاملرنه شـــوې ده. د یـــادو نورو موضوعاتو پـــه اړه هم له مفصل بحث وروسته لازم تصامیم ونیول شول.

د کمېسیون دا غونډه د خیر په دعا پای ته ورسېده

## له روسي پلاوي سره د شریکو شوو اقتصادي موضوعاتو د تعقیب په موخه
# له سکتوري وزارتونو سره ځانګړې غونډه ترسره شوه



د ریاست‌الوزراء اقتصادي مرســـتیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ له روسي پلاوي سره د شریکو شـــوو اقتصادي موضوعاتو د تعقیب په موخه له سکتوري وزارتونو سره ځانګړې غونډه د روان ۱۴۰۳ لمریز کال د قوس میاشتې په ۲۵مه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې ترسره شوه. له تفصیلي بحث وروســـته د اوبو او انرژۍ، کانونو او پټرولیم، کرنې، اوبولګولـــو او مالـــدارۍ، ټولګټـــو، کور او ښـــار جوړولو، ترانسپورټ او هوایي چلند، او صنعت او سوداګرۍ وزارتونو، د ټولګټو وزارت اړوند د اوســـپنې پټلۍ معینیت او د امارتي شرکتونو لوی ریاست ته دندې وسپارل شوې، څو هر وزارت او اداره د خپلې کاري ساحې اړوند د هېواد په کچه لویې او مهمې اقتصادي پروژې په نښه او له ټولو تفصیلي معلوماتو سره یوځای یې د ریاســـت‌الوزراء له اقتصادي معاونیت سره شریکې کړي. اقتصادي معاونیت به یادې پروژې د روسیې فدراسیون د ملي امنیت شورا د عمومي منشي سرګي شویګو په مشرۍ له هغه لوړپوړي پلاوي سره شریکې کړي، چې د روانې قوس میاشتې په پنځمه نېټه یې کابل ته سفر کړی و.

یاد روسي پلاوي هغه مهال د ریاســـت‌الوزراء له اقتصادي مرســـتیال سره د لیدنې پر مهـــال د دواړو هېوادونو ترمنځ د اقتصادي همکاریو، سوداګرۍ او ترانزیټ کچې پر زیاتېدو خبرې وکړې او تینګار وشو، چې دواړه لوري به په دغه برخه کـــې ګډ کار کوي. همدا راز په دغه غونډه کې د هغو مهمو اقتصـــادي برخو په اړه هم بحث وشـــو چې روسي شرکتونو یې پانګونې ته لېوالتیا ښودلې ده. له هراړخیز بحث وروسته د ریاست‌الوزراء اقتصادي معاونیت تر چتر لاندې د پانګونې بین‌الوزارتي کمېټې ته دنده وسپارل شوه، څو له یادو روسي شرکتونو سره د لا ښې همغږۍ رامنځته کولو په موخه انلاین مجلس ترسره کړي.

## د بهرنیو اسعارو بیې

د کابـــل په شهزاده ســـرای کې د افغانۍ پر وړاندې د بهرنیو اسعارو د نن ورځې بیې



| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱ | امریکایي ډالر | ؋۷۰,۱۵ | ؋۷۰,۲۰ |
| ۱۰۰۰ | پاکستانی کلداري | ؋۲۳۹ | ؋۲۴۰ |
| ۱۰۰۰ | ایراني تومن | ؋۱,۲۷ | ؋۱,۲۷ |
| ۱ | اروپایي یورو | ؋۷۲,۸۲ | ؋۷۲,۸۷ |
| ۱ | روسی روبل | ؋۰,۶۷ | ؋۰,۶۷ |

| اندازه | پولي واحد | پېرل | پلورل |
|---|---|---|---|
| ۱۰۰۰ | هندی کلداري | ؋۸۲۵ | ؋ ۸۲۵ |
| ۱ | انګلیسي پونډ | ؋۸۸,۲۹ | ؋۸۸,۳۶ |
| ۱ | سعودي ریال | ؋۱۸,۶۷ | ؋۱۸,۶۸ |
| ۱ | اماراتي درهم | ؋۱۹,۱۰ | ؋۱۹,۱۱ |
| ۱ | چیني ین | ؋۹,۶۱ | ؋۹,۶۲ |

# THE IMPORTANCE OF DOMESTIC INDUSTRY IN AFGHANISTAN'S ECONOMIC STABILITY

BY ABDULLAH AIMAL





## Introduction

Afghanistan has faced significant economic challenges and infrastructural deterioration due to four decades of war, occupation, and political instability. Fortunately, with the re-establishment of the Islamic Emirate, the occupation has ended, a Sharia-based system has been implemented, and comprehensive plans have been prepared and are in the process of being implemented to address the economic, political, and social issues that have persisted over the past forty years. While an import-based economy is considered a temporary solution to meet immediate needs, the Islamic Emirate has prioritized the growth and development of domestic industry as part of its strategic agenda. This approach is seen as a sustainable and long-term solution to achieve the country's economic stability. This article discusses the significance of domestic industry, the challenges it faces, and potential future solutions.

## The Value of Domestic Industry

The significance of domestic industry is pivotal for the economic, social, and cultural development of any society. Accordingly, domestic industry is regarded as a fundamental element of Afghanistan's economic stability. Its value can be summarized as follows:

### 1. Strengthening the Economy

•Through domestic production, the country can reduce reliance on imports and prevent the outflow of foreign currency.

•Industrial growth increases national income and contributes to the growth of the country's GDP.

### 2. Employment Opportunities

•Thousands of job opportunities are created through production facilities and industrial parks.

•The development of domestic industry paves the way for skill development among workers.

### 3. Boosting Exports

•With improved quality of domestic products, Afghanistan can participate in regional and international markets.

•This will increase the country's exports and create new sources of national revenue.

### 4. Steps Toward Self-Reliance

•Advancing domestic industry reduces Afghanistan's dependence on foreign aid.

•Essential goods, such as food, clothing, and other basic products, are produced within the country.

### 5. Development of Technology

•The growth of industry facilitates the transfer and use of modern technology.

•It creates opportunities to enhance technical knowledge and skills.

## Challenges Facing Domestic Industry

Despite its importance to Afghanistan's

economy, domestic industry faces several challenges that have limited its growth:

### 1. Lack of Electricity

•Insufficient electricity supply for industrial parks and factories has increased production costs.

### 2. Weak Infrastructure

•The lack of roads, railways, and transportation systems complicates the transfer of goods.

### 3. Shortage of Raw Materials

•Raw materials for domestic production are either scarce or imported at high costs.

### 4. Lack of Capital

•Limited private sector development and insufficient financial support for small production companies hinder industrial growth.

5. Shortage of Skilled Workers

•The absence of technical education has led to a lack of skilled labor.

## Strategies for Developing Domestic Industry

To strengthen domestic industry and promote economic self-sufficiency, the following measures are essential:

### 1. Government Support

•Financial Assistance: The government should provide financial aid to industrialists to expand their industries.

•Tax Reduction: Reduce or exempt taxes for domestic industries to lower production costs.

•Development Policies: Create policies that prioritize industrial growth.

### 2. Infrastructure Development

•Electricity and Transportation: Ensure electricity supply and develop transportation facilities to support production.

•Industrial Parks: Establish industrial parks equipped with necessary facilities for small and medium-sized enterprises.

### 3. Technical Education and Training Centers

•Skill Development: Establish technical and vocational training centers to provide workers with necessary skills.

•Technology Training: Offer training on the use of modern technology to improve the quality of domestic products.

### 4. Availability of Raw Materials

•Utilize local raw materials to support domestic industry and reduce production costs.

•Leverage local agricultural and natural resources for industrial production.

### 5. Marketing Support

•Exhibitions: Introduce domestic products through exhibitions both locally and internationally.

•Promotion: Use media and social networks for extensive promotion of domestic products.

•Export Support: Help domestic products gain access to international markets.

### 6.Technological and Innovative Advancements

•Industrial Technology: Use advanced machinery to ensure high-quality production.

•Encouraging Innovation: Foster innovation and inventions to make domestic products competitive globally.

### 7. Encouraging the Private Sector

•Create investment opportunities for local and international investors.

•Joint public-private sector projects can drive industrial growth.

### 8. Raising Public Awareness

•Promote the culture of using domestic products among citizens to reduce dependency on imports.

•Encourage national pride through campaigns like "Our Production, Our Pride."

### 9. Special Financial Programs

•Offer financial assistance and guidance for young entrepreneurs.

•Develop tailored programs to support production in remote areas.

### 10. Environmental Standards

•Ensure production processes align with environmental standards to guarantee sustainable development.

## Conclusion

The development of domestic industry is a cornerstone of Afghanistan's economic stability. Addressing security issues, improving infrastructure, and providing essential facilities for investors can enable Afghanistan to achieve self-reliance. The growth of domestic industry will not only lead to economic stability but also play a fundamental role in the country's social progress and improvement in quality of life. Supporting domestic products is both a national responsibility and a path toward realizing the vision of a prosperous Afghanistan.